# په ملي کچه د څوګونو موخو بیړنۍ نقدی مرستي میکانیزم- مرستو د توزیع څخه وروسته نظارت (PDM)

## پړاو 2

## افغانستان

جنوري 2020

## عمومي کتنه

بیړنی مرستو میکانیزم (ERM) یوه ګړندۍ ځواب ویونکي اسانتیا ده چي د (ECHO) لخوا تمویل شوې ترڅو بیړنۍ او ژوند ساتنی مرستی د پیښو څخه متضرره وګړو لپاره د څوګونو موخو نقدي پیسو مرستو (MPCA) له مخی لږترلږه 18000 افغانۍ او همدارنګه خوندیتوب، اوبو، روغتیا ساتنی او حفظ الصحی (WASH) مرستی برابری کړي. د بیړنۍ مرستو میکانیزم(ERM) د افغانستان 34 ولایتونو څخه په 33 ولایتونو کي د 7 بشري فعالانو هر یو ,ACF, ACTED, DACAAR, DRC, IRC ,PUI او RI سره په ګډه همغږۍ سره ترسره شوی. [1]

د بیړني مرستو میکانیزم د ترسره کیدو نهم کال په جریان کي (ERM 9)، ریچ (REACH) د بیړنۍ مرستو میکانیزم (ERM) د ملګرو ادارو لپاره د معلوماتو د تنظیم (MI) ملاتړ یی چمتو کړ. برسېره پر دې چي همکارو ادارو خپل داخلي وروستني د توزیع نظارتونه (PDMs) ترسره کړل، په ملي کچه د ریچ (REACH) په فعالیتونو کي د وروستنۍ توزیع نظارت (PDM) او د څو ګونو موخو نقدي پیسو مرستی (MPCA) درې پړاوونه شامل وه ترڅو د نظارت او ارزیابۍ په برخه کي یو بې پری دریم ګړي په توګه ووسي. دغه معلوماتي کتاب په ملي کچه د وروستنۍ توزیع نظارت (PDM) د دوهم پړاو کلیدي شاخصونه خلاصه کوي کوم چي د 2020 کال په جنوري میاشت کي ترسره شول.

## میتودولوژي

په مجموعي ډول، 1,047 کورنیو د 2019 کال اکتوبر میاشتي- وروستۍ اوونۍ او نومبر میاشت 2019 کال کي بیړنۍ مرستو میکانیزم او څوګونو موخو نقدي مرستی (ERM MPACH) ترلاسه کړی.

ریچ (REACH) یوه مشخه نمونه د څوګونو موخو نقدي پیسو مرسته (MPCA) ګټه اخیستونکو کورنۍ پدی پړاو کی سروی کړی. دغه پړاو (caseload) ذکر شوي ولایتونه تر خپل پوښښ لاندي راوستل لکه: بلخ، فاریاب، غزني، هرات، کابل، کاپیسا، خوست، کونړ، لوګر، میدان وردګ، ننګرهار، نیمروز، پکتیا، پروان او تخار. انتخاب شوي کورنیو سره د مرستي ترلاسه کولو وروسته د 30 او 60 رځو په منځ کی مرکی ترسره شوی.

دمجموعي توګه، د 471 کورنی سروی د 2020 کال جنوري میاشتي د 2 او 14 نېټو تر منځ د ګټه اخیستونکو کورنیو سره د ریچ (REACH) سروې کوونکو په ذریعه د ټلیفون له لاري ترسره شوی دا نمونه د ښاري او اطرافي کورنیو پر اساس طبقه بندي او حساب شوي ترڅو لاسته راوړنی (findings) یې پیدا شي کوم چي د ټول ګټه اخیستونکو نفوسو لپاره عمومي وي او ورسره د هري طبقې د معلوماتو د باور کچه 95٪ او د حاشیه غلطي 5% وه.

**ستونزي او محدودیتونه:**

- مرکې د کورنیو د مشرانو سره ترسره شوي. په افغانستان کي د کورنۍ مشر عموما د فامیل نارینه غړی وي. په پایله کي، په موندنو (findings) کي د جنډر احتمالي تعصب شتون لري د ځکه چي ډیری ځواب ورکوونکي نارینه وه.
- لکه څرنګه د ازاد بحث کیفي پوښتنپاښه استعمال شوي، د اړتیاوو او مصارفو د ډولونو لړ توپیرونه لکه (په دقیقه توګه سره د (روغتیا) په برخه کی څه اخستل شوی)، ندي نیول شوي. که څه هم، ریچ اوس کیفي اوږدمهال سروې (QLS) په لاره اچولې ترڅو هغه موندنی (findings) چي د PDMs یا نورو ارزونو څخه رامنځ ته کیږي په ډاګه او متني کړي. .
- د خوندیتو اندیښنو له امله، د ساتني واقع کېدونکو پیښو او اړتیاوو په اړه خاصی پوښتنی، په ځانګړي توګه هغه چي د توزیعي پروسې او د مرستی ترلاسه کولو تاثیر پوری اړوند وي لکه د وروستۍ -توزیع مالیه، پوښتل کېدای نشي.

## د ګټه اخیستونکو د کیس لوډ پروفایل

### نفوس

**د کورنۍ منځنی اندازه::** 8.5

**% خکلیوالو کورنیو سلنه د ښاري کورنیو په پرتله:**



کلیوالی کورنۍ 51%

ښاري کورنۍ 49%

### زیانمنتیاوی

**د نسبت اړوند اوسط:[2]** 0.7:1

**% د هغه کورنیو سلنه چه:**

ښځینه سرپرست : 21%

لوړ عمر لرونکی کورنۍ مشر : 1%


≤ 1لږترلږه یو غړی معلولیت لري : 27%

≤ 1 لږترلږه یو غړی چي سخته ناروغي لري : 38%

### بېځایه کیدنه

**% د بېځایه شوو کورنیو سلنه :** 99%

**% د هغو کورنیو سلنه چي په راتلونکو 12 میاشتو کي یې د تللو هوډ لري:**



په اوسنی ځای کی پاتی کیږی 87%


خپل اصلی ځای ته ځی 7%

نه پوهیږی 6%

## د څوګونو موخو نقدي پیسو مرسته (MPCA) او د ګټه اخیستونکو عاید، مصرف او پور

### بیړنۍ مرستو میکانیزم څوګونو موخو نقدي پیسو

**% د کورنیو چي د څوګونو موخو د نقدي پیسو ارزونی (MPCA) له لاری یی پیسې ترلاسه کړي (افغاني): [3]**



پوره اندازه (18,000افغانی) 28%

په قسمي ډول (12,000افغانی) 22%

په قسمي ډول (6,000 افغانی) 50%

**97%** کورنیو راپور ورکړی چي خپلې ټولی مرستی یی د مرکی تر وخت پوری مصرف کړي (د توزیع څخه تر دوو میاشتو پوري)

**40%** کورنیو راپور ورکړی چي د بیړنۍ مرستو میکانیزم څوګونو موخو نقدی پیسو مرستو (ERM MPCA) څخه پرته یې په تیرو دریو میاشتو کي ځیني نوري مرستي د دری میاشتو په موده کی د مرکی کولو څخه مخکی ترلاسه کړي

له دې جملې څخه، د مرستی تر ټولو غوره 3 نور ډولونه چه ترلاسه شوي وه:
خوراکي توکي (69%) ، نقدي پیسې (22%) او حفظ الصحې مرسته (17%).

### عاید او مصارف

**د عاید نیمه منظم مقدار چي کورنیو د 30 ورځو په موده کي د مرکی څخه مخکی راپور کړي: [4]**

حداکثر راپور شوی نیمه منظم عاید: 30,000 افغانی

په منځني ډول راپور شوی نیمه منظم عاید: 6,000 افغانی


**90%** د کورنیو راپور ورکړی چي هغوی په تیرو 30 ورځو کي نیمه منظم د عاید سرچینی د 30 ورځو په موده کی د مرکی څخه مخکی درلودی

د کورنۍ منځنی مصرف د 30 ورځو په موده کي د مرکی څخه وړاندی **18700** افغانۍ وو

منځنی لګښت په ټکلي ډول 3 برابره د منځني عاید وو:
د کورنۍ منځنی سوچه عاید **(12600)** افغانۍ وو.

### پور

**% د کورنیو د راپور شوی پور د مقدار له مخي د مرکې پر مهال (افغانۍ):**



8,000< افغاني پور 71%

≥ 8,000 افغاني پور 14%

عدم قرض 15%

**69%** کورنۍ راپور کړل شوي چي د پیښي د تجربه کولو وروسته یې اکثریت پور محاسبه کړی (مرستي ته په اولیت ورکولو سره).

د پور د مقدار اوسط د کورنۍ پر سر **55,000** افغانۍ راپور کړل شوی.

**28%** کورنۍ راپور کړل شوي چي په تیرو 30 ورځو کي یې څه اندازه مرسته د پور په اداکولو کي مصرف شوې-مرکې ته په اولیت ورکولو سره.

[1] د ERM 9 د یوې برخي په توګه، MPCA په منظم او قسمي ډول د اوبو، روغتیا ساتنی او حفظ الصحی مرستی د DACAAR لخوا برابری شوی. دلته د وروستي توزیع نظارت (PDM) لاسته راوړنی په قسمي ډول د اوبو، روغتیا ساتنی او حفظ الصحی مرستي تر پوښښ لاندي نه راولي.

[2] د نسبت اړونده محاسبه داسي شوې چي د کورنیو د ټولو غړو تعداد، د کورنیو پر کاري عمر لرونکو غړو باندي وېشل شوې (18-59)

[3] بشپړ MPCA هغه مهال ورکړل شوې چي په عیني وخت کي بله مرسته نه وه توزیع شوې; 12000 افغانۍ هغه مهال ورکړل شوې چي په قسمي ډول غیر خوراکي توکي هم ورته توزیع شوي وو او 6000 افغانۍ هغه مهال ورکړل شوي چي په قسمي ډول خوراکي توکي هم ورته توزیع شوي وو.

# په ملي کچه د څوګونو موخو بیړنی نقدی مرستي میکانیزم- مرستو د توزیع څخه وروسته نظارت (PDM)

## پړاو 2

افغانستان

جنوري 2020

## د ګټه اخیستونکو اړتیاوي او لګښتونه

### لومړنی اړتیاوي

5 لومړني اړتیاوي چه د کورنیو لخوا راپور شوي (کولای شئ تر 3 پورې یې انتخاب کړئ):[5]

| | |
|---|---|
| خواړه | 92% |
| د سونګ توکي او برېښنا | 63% |
| کرایه | 54% |
| روغتیايي پاملرنه | 42% |
| د پور بیا ادایه | 21% |

### د مصرف ډول

5 لومړني لګښتونه چي په تیرو 30 ورځو کی د کورنیو لخوا راپور شوي (% د ټول مصرف):

| | |
|---|---|
| خواړه | 37% |
| د سونګ توکي او برېښنا | 15% |
| کرایه | 12% |
| روغتیايي پاملرنه | 13% |
| د پور بیا ادایه | 6% |

### مصرف شوی مقدار

منځنی مقدار چي پرغوره 5 لومړني لګښتونو مصرف شوي کورنیو لخوا راپور شوي (افغانی):[5]

| | |
|---|---|
| خواړه | 5,800 AFN |
| د سونګ توکي او برېښنا | 2,300 AFN |
| کرایه | 1,900 AFN |
| روغتیايي پاملرنه | 2,400 AFN |
| د پور بیا ادایه | 1,600 AFN |

## د څوګونو موخو نقدي پیسو مرستو اغېزه

یو شمېر کلیدي شاخصونه د کورنۍ بېړنی ارزونی اوزارو (HEAT) کي شامل دي چي د بیړنی مرستو میکانیزم، څوګونو موخو نقدي پیسو مرستو (ERM MPCA) او وروستی توزیع نظارت (PDM) ارزوني لپاره د پیبني څخه متضررو کورنیو شرایطو ته د لاسرسي لپاره استعمالیږي.7 د ګټه اخیستونکو کورنیو مقایسوي تحلیل د کورنۍ بیړنی ارزونی اوزارو (HEAT) څخه وړاندی او د وروستي توزیع نظارت (PDM) څخه وروسته څوګونو موخو نقدي پیسو مرسته (MPCA) پر کورنی باندي د مرستي د اغېزې یوه ارزیابي برابروي. کلیدي شاخصونه عبارت دي له: % کورنی پوروړی دي، د خواړو د مصرف حساب (FCS)، او د کم شوي متقابلی ستراتیژۍ شاخص [8] (rCSI)

### پور

% کورنی د پور حالت له مخی:

| | پوروړی ندی | پوروړی |
|---|---|---|
| MPCA څخه وړاندی | 9% | 91% |
| MPCA څخه وروسته | 15% | 85% |

### د خواړو د مصرف نمره

% د کورنیو د خواړو لګښت حساب کټګوری له مخی.

| | د منلو وړ | سرحدي خط | خراب |
|---|---|---|---|
| MPCA څخه وړاندی | 2% | 11% | 88% |
| MPCA څخه وروسته | 13% | 48% | 39% |

### د متقابلی استراتیژي دشاخص کمښت

% د کورنیو د کم شوی متقابلی ستراتیژۍ شاخص له مخی.

| | لږ | منځنی | لوړ |
|---|---|---|---|
| MPCA څخه وړاندی | 5% | 15% | 80% |
| MPCA څخه وروسته | 19% | 35% | 46% |

## د متضرر شویو وګړو په وړاندي غبرګون (حساب ورکول)

### درک شوي اغېزه

% د کورنی راپور ورکړی چي کومی مرستي یي ترلاسه کړي، لومړني اړتیاوي یي پرې پوره شوي:

| | |
|---|---|
| بسیار مفید | 12% |
| نسبتاً مفید | 66% |
| مفید نیست | 22% |

### غوره شوی څرنګوالی

% کورنی د مرستي د غوره څرنګوالي په ترتیب:

| | |
|---|---|
| نقدي پیسي غوره ګڼی | 97% |
| نور څه یی غوره کړي | 3% |

### معلومات او ځواب ( فیډبک)

67% د کورنیو راپور ورکړی چي د ثبت په اړه یي معلومات ترلاسه کړي/څنګه مرستي ته له توزیع وړاندی لاسرسی ولري.

53% د کورنیو راپور ورکړی چي د پلي کوونکو ادارو لخوا د مرستي لپاره د ځواب ورکولو(feedback) میکانیزم څخه خبر وه.

2% کورنی راپور کړل شوي چي د مرستي په اړه یو سوال وپوښتي یا یو شکایت وکړي.

[5] ډیر انتخابونه کېدای شي وټاکل شي: موندنی (findings) ممکن تر100% لوړی شي.
[6] منځنی لګښت تولی کورنی په نمونه کی تر پوښښ لاندي راولي په شمول د هغو چي راپور یی ورکړی چی پر شیانو هیڅ نه مصرفوي. اوسطونه په توپیر ولري کله چه یوازي هغو کورنیو ته وګورو چي مصرف کولو راپور ورکوي.
[7] ریچ (REACH) د کورنی بیړنی ارزونی اوزارو (HEAT) معلوماتو تحلیل ترسره کوي کوم چي په میاشتني ترتیب سره راټول کړل شوي. کولای شي چي د کورنی بیړنی ارزونی اوزار (HEAT) میاشتنی معلوماتي کتاب د ERM 9 ډشبورډ څخه ترلاسه (download) کړی، همدارنګه د همکاري اداري میاشتني فعالیت تاسو ته پر دغه ادرس کی ښودل کیږي: erm-afg.org
[8] د خواړو د مصرف حساب (FCS) د سروي څخه مخکی د 7 ورځو په جریان کي چي کورنیو د خواړو بیلابیل ګروپونه مصرف کړی محاسبه شوي. د کم شوي متقابلی ستراتیژۍ شاخص (rCSI) د هغه اټکل پر اساس دی چي د سروې څخه مخکی د 7 ورځو په موده کي د کورنیو د خواړو ناخوندیتوب پر منفي متقابلی ستراتیژۍ تکیه کړې وه. د ډیرو معلوماتو لپاره دلته وګورئ.

DACAAR | Première Urgence Aide Médicale Internationale | Danish Refugee Council | International Rescue Committee | Relief International | Action contre la Faim | ACTED | REACH Informing more effective humanitarian action